# په لمانځه کې ۳۳ د خشوع لاري چاري

www.larkhud.com



ليکوال: فضيلة الشيخ صالح المنجد ژباړن: سعيد الرحمن

www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# په لمانځه کې د خشوع

# ۳۳

# لارې چارې

لیکنه:

شیخ محمد صالح المنجد

ژباړن:

سعیدالرحمن بن شیخ گل احمد

مدینه منوره ۲۰۲۰/۵/۳۱م



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## لومړی:

## هغه کارونه چې خشوع پیاوړې او پیداکوي:

### ۱ لمونځ ته تیاری کول، او د ځان برابرول:

**دا بیا په یو ځوکارونو ترلاسه کیږي، چې ځینې یې دا دي:**

د مؤذن سره د اذان کلمات ویل، د اذان وروسته مسنون دعا ویل، د اذان او اقامت ترمنځ دعا غوښتل، پوره اودس کول، پیل یې په بسم الله او پای یې په مسنون دعا سره کول، د مسواک اهتمام کول، ښکلی او پاک لباس په تن کول، د وخته جومات ته تلل، جومات ته په سکون او اطمنان سره تلل، د جماعت لمونځ انتظار کول، د صف برابرول او نږدې یو بل سره ودریدل.

### ۲ لمونځ په اطمنان سره کول:

پیغمبر ﷺ به په ارام او سکون سره لمونځ کولو تر دې چې هر هډوکی به یې خپل ځای ته واپس شولو[۱].

---

(۱) رواه أبوداود(۷۳۰)، وصححه الألباني في صحيح سنن أبي داود.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۳ د لمونځ پر مهال ځان ته مرګ يادول:

د پيغمبر ﷺ وينا ده : «أذكر الموت في صلاتك؛ فإن الرجل إذا ذكر الموت في صلاته لحري أن يحسن صلاته، وصل صلاة رجل لايظن أنه يصلي صلاة غيرها»(۲).

**ژباړه:** لمانځه کې ځان ته مرګ رایاد کړئ، کله چې یو څوک په لمانځه کې ځان ته مرګ رایاد کړي، ډیره مناسبه ده چې لمونځ به ښایسته کړي، د هغه چا په څیر لمونځ کوه چې دا یقین نه لري چې له دې وروسته به بل لمونځ ونه کړي.

## ۴ د آیت او نورو ذکرونو په ویلو کې سوچ کول، او د هغې اړوند اثر په ځان رابرسیره کول:

د آیاتونو په معنی پوهه او په هغې کې فکر کول د علم نه پرته نه ترلاسه کیږي، مونځ کوونکی کولای شي چې په آیتونو کې فکر او سوچ وکړي، چې له امله یې له سترګو اوښکې توی شي، او یو اثر ورکې پیداشی.

(۲) رواه البيهقى فى الزهد (۵۳۴)، وحسنه الألباني فى صحيح الجامع(۸۴۹).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

الله تعالی فرمایلي:﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَمۡ يَخِرُّواْ عَلَيۡهَا صُمّٗا وَعُمۡيَانٗا ﴿٧٣﴾ ﴾[1].

**ژباړه:** د الله بنده ګان هغه خلک دي چې کله ورته د الله په آیتونو نصیحت ورکول کیږي؛ نو ځان ورباندې ړوند کوڼ نه اچوي.

**لاندې کارونه په آیتونو او ذکرونو کې په سوچ او فکر کولو باندې مرسته کوي:**

د آیتونو سره په ځان اثر ښکاره کول، او هغه داسې چې د پاکۍ د بیان د آیتونو د تلاوت پر مهال سبحان الله ویل، د پناهۍ د آیتونو د تلاوت پرمهال أعوذ بالله ویل، او داسې نور...

**د آیتونو سره د توافق له جملې ځینې دا چې:**

د فاتحې د ویلو وروسته امین ویل، په دې ویلو کې لوی اجر او ثواب دی، رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

«إذا أمن الإمام فأمنوا؛ فإن من وافق تأمنيه تأمين الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه»[2].

**ژباړه:** کله چې امام امین ووایي، تاسې هم امین ووایئ، ځکه چې د چا امین د ملایکو د امین سره برابر شو مخکنې ګناهونه به ورته معاف کړل شي.

---

(۱) الفرقان: ۷۳

(۲) متفق علیه البخاری (۷۴۷) مسلم(۴۱۰).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**بل د امام سره توافق کول** چې کله سمع الله لمن حمده ووايي، نو مقتدي دې بيا ربنا ولك الحمد ووايي په دې هم ډېر لوی اجر دی.

## ۵ ايت په ايت دمه کول:

داسې (ايت په ايت) ويل د پوهې او سوچ لپاره مناسبه (لار) ده، دا د رسول الله ﷺ طريقه هم وه، د هغه مبارک قراءت کې به حرف حرف هم واضحه وو.

## ٦ قرآن په دمه او په ښکلي اواز سره لوستل:

د الله پاک وينا ده چې﴿ وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا ۝٤ ﴾[١].

ژباړه: قرآن په دمه دمه لوله.

او د رسول الله ﷺ د دې وينا له امله چې: «زينوا القران بأصواتكم فإن الصوت الحسن يزيد القرآن حسنا»[٢].

**ژباړه:** قرآن په خپلو آوازونو ښايسته کړئ، ځکه ښکلی آواز قرآن ته نوره ښکلا ببښي.

---

(١) المزمل: ٤

(٢) أخرجه الحاكم في المستدرك(٢١٢٥)، وصححه الألباني في صحيح الجامع(٣٥٨١).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۷ باور لرل چې الله به زما غوښتنې په لمانځه کې قبلوی:

رسول الله ﷺ فرمايلي: «قسمت الصلاة بيني وبين عبدي نصفين، ولعبدي ماسأل، فإذا قال العبد: ﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ قال الله تعالى: حمدني عبدي وإذا قال: ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ قال الله تعالى: اثنى علي عبدي، وإذا قال: ﴿ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴾ قال: مجدني عبدي، وقال مرة: فوض إلى عبدي، فإذا قال: ﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ﴾، قال : هذا بيني وبين عبدي، ولعبدي ماسأل، فإذا قال: ﴿ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ قال الله: هذا لعبدي ولعبدي ماسأل»[(١)].

**ژباړه:** لمونځ زما او زما د بنده ترمنځ تقسيم دی، زما بنده چې له ما څه غواړي هغه يې شول، کله چې زما بنده ﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ ووايي: الله ووايي: زما بنده زما حمد وويلو، بيا کله چې ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ ووايي، الله ووايي: زما بنده زما ستاينه وکړه، بيا کله چې ﴿ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴾ ووايي، الله ووايي: زه يې لوړ وګڼلم، يو ځل يې وويل: زما بنده ما ته ځان راوسپارلو، بيا کله چې ﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ﴾

---

(١) رواه مسلم (٣٩٥).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ووايي، الله ووايي: دا زما او زما د بنده ترمنځ ده، زما بنده چې څه غواړي هغه يې شول، بيا کله چې ﴿ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ ووايي، الله ووايي: دا هم زما د بنده لپاره او زما د بنده لپاره هغه څه شول چې هغه يې غواړي.

## ٨ مخې ته سُتره کېښودل او هغې ته نږدې ودريدل:

د ګټورو کارونو له ډلې چې لمانځهکې پرې خشوع پیداکيږي، هغه د سُترې اهتمام او هغې ته لمونځ کول دي، سترې ته د نږدې ودريدو ډېرې فايدې دي چې ځينې يې دا دي:

د سترې ورهاخوا څخه د نظر ساتنه، د مونځ کوونکي او سترې ترمنځ خلک له تيريدو منع کيدل، بلکې د شيطان منع کيدل دي چې ستا مخ ته دې تير شي، او مونځ له فساد څخه ژغورل.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «إذا صلى أحدكم إلى سترة فليدن منها، لايقطع الشيطان عليه صلاته»(١).

---

(١) رواه أبوداود(٦٩٥)، وصححه الألباني في صحيح أبي داود.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**ژباړه:** کله چې یو تن ستاسې سترې ته لمونځ کوي؛ نو سترې ته دې نږدې ودریږي، شیطان بیا نشي کولای چې مونځ دې پرې خراب کړي.

## ۹ ښي لاس د کیڼ لاس د پاسه په سینه کیښودل:

رسول الله ﷺ به چې کله لمونځ ته ودریدو ښي لاس به یې د کیڼ لاس د پاسه کیښود او بیا دواړه لاسونه به یې په سینه کیښودل(۱).

**په دې شکل لاسونو کیښودو سره حکمت دا دی:** چې دا هیئت د یو عاجزه کمزوي سوال کوونکی انسان هیئت دی، بل دا چې په دې هیئت سره به د عبثیاتو نه بچاؤ او خشوع ته نږدې هیئت همدا دی.

## ۱۰ د سجدې ځای ته کتل:

د عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی «أن رسول الله ﷺ كان إذا صلى طأطأ رأسه، ورمي ببصره نحو الأرض»(۲).

---

(۱) رواه أحمد (۲۱۹۶۷).

(۲) انظر المستدرك(۱۷٦۱)،(۳٤۸۳)، صفة الصلاة(ص ۸۹).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**ژباړه:** رسول الله ﷺ به چې کله لمونځ کولو سر به یې ښکته اچولی وو، او سترګې به یې د ځمکې په لور وې، کله به چې بیا په تشهد کښیناستو، بیا به یې د اشارې ګوتې ته کتل، څرنګه چې د رسول الله ﷺ نه روایت دي(۱).

## ۱۱ د شهادت ګوته باندې اشاره کول:

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «لهي أشد على الشيطان من الحديد»(۲).

**ژباړه:** دا (د شهادت په ګوته اشاره کول) په شیطان باندې له اوسپنې [ګوزار]نه سخت دی.

په شهادت ګوته اشاره کول انسان ته یادونه کوي چې الله یو دی شریک نه لري، او عبادت هم یوازې د هغه لپاره وکړی شي، او دا هغه لوی کار دی چې شیطان یې بد ګڼي.

الله دې موږ د شیطان څخه وژغوري.

---

(۱) رواه النسائي(۱۱٦۰)، وصححه الألباني سنن السنائي.

(۲) رواه أحم د(٦۰۰۰)، وضعفه محققو المسند، وحسنه الألباني في مشكاة المصابيح(۹۱۷).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۱۲ مختلف سورتونه، ذکرونه او دعاګانې لوستل د تل لپاره په ځانګړې سورت، ذکر او دعا بسنه نه کول :

دا کار بیا لمونځ کوونکي ته د نوو معناګانو احساس ورکوي، ګڼ مضامین چې په مختلفو آیاتونو او اذکارو کې لولي ګټه ورکوي، او داسې تنوع [ کله یو سورت کله بل او کله یو ذکر کله بل، کله یوه دعا کله بله دعا ویل] دا سنت عمل دی، او په انسان کې پوره خشوع راولي.

## ۱۳ د سجدې ایت د لوستلو پر مهال سجده کول:

الله تعالی فرمایلي: ﴿وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ۩ ﴿١٠٩﴾﴾(١).

**ژباړه:** [مومنان هغه خلک دي] او پر مخې پریوځي او ژاړي او دا کار یې خشوع نوره هم زیاتوي.

بل ځای کې آیت دی:

﴿إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ۩ ﴿٥٨﴾﴾(٢).

---

(١) اسراء: ١٠٩

(٢) مریم: ٥٨



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**ژباړه:** [مومنان هغه خلک دي]کله چې پر دوې زموږ آیتونه ولوستل شي د ژړا په حال پړمخ په سجده پریوځي.

رسول الله ﷺ فرمایلي: «إذا قرأ ابن آدم السجدة، فسجد، اعتزل الشيطان يبكي، يقول: يا ويله ـ وفي رواية أبي كريب:يا ويلي ـ أمر ابن آدم بالسجود فسجد؛ فله الجنة، وأمرت بالسجود فأبيت؛ فلي النار»(۱).

ژباړه: کله چې یو انسان د سجدې آیت ولولي، او بیا سجده وکړي، شیطان ترې یوې ډډې ته شي، او ووایي: اې هلاکته! ـ د ابو کریب په روایت کې دي چې داسې ووایي: اې ما لره هلاکت دی ـ د ادم زوی ته د سجدې کولو امر وشو، سجده یې وکړه؛ نو هغه له به جنت وي، او ما ته د سجدې کولو امر وشو، ما انکار وکړو؛ نو زما لپاره اور(جهنم) شو.

## ۱۴ په الله پورې د شیطان نه پناهي غوښتل:

شیطان زموږ دښمن دی، او د هغې د دښمنۍ له کارونو څخه یو دا چې د لمونځ پرمهال وسوسې اچوي، د دې لپاره چې د لمونځ کوونکي خشوع له مینځه لاړه، او لمونځ یې‌گډوډ شي، شیطان داسې حیثیت لري لکه د لارې بندوونکی، کله چې بنده

(۱) رواه مسلم (۸۱).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

وغواړي چې د الله په لور مزل پیل کړي، شیطان غواړي چې لاره وربنده کړي؛ بنده ته پکار دي چې ثابت او صبر کوونکی اووسي، د مونځ او ذکرونو پاېند اووسي، ستړی او پریشانه نشي.

د دې کارونو په پابندۍ سره به د شیطان له چل نه په امن کې شي.﴿إِنَّ كَيۡدَ ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ٧٦﴾[1].

**ژباړه:** بیشکه د شیطان چل کمزوری دی.

## ۱۵ د سلفو د لمانځه د حال په اړه سوچ کول:

علي بن الحسین به چې کله اودس وکړو، رنګ به یې تک زیړ شو، خپل خپلوانو به ورته ویل: دا ته څه مریض یې؟ هغه به ورته وویل: آیا تاسو پوهیږئ چې د کوم ذات مخې ته زه غواړم چې اودریږم؟

مسلم بن یسار به چې کله کور ته ننوتو، د کور والا به یې ټول چپ شول، هیچا به خبرې نه کولې، خو چې کله به لمانځه ته ودریدو بیا یې د کور والاو خبرې او خنداګانې کولې، هغوی

(۱) نساء: ۷۶



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

پوهیدل چې په لمونځ کولو مشغول شو[1]. [نو بیا به یې هیڅ څه ته فکر نه وو].

## ۱۶ لمونځ کې د خشوع ځانګړتیاوې پیژندل:

له جملې یې دا وینا د رسول الله ﷺ ده: «ما من امرئ مسلم تحضره صلاة مكتوبة، فيحسن وضوءها، وخشوعها، وركوعها، إلا كانت كفارة لما قبلها من الذنوب؛ ما لم يؤت كبيرة، وذلك الدهر كله»[2].

**ژباړه:** هر وخت چې یو مسلمان باندې د لمونځ وخت راشي، ښایسته (پوره) اودس وکړي، بیا رکوع او لمونځ په خشوع او تواضع سره وکړي، دا به دده لپاره د مخکني ګناهونو کفاره شي؛ تر هغې پورې چې کبیره (لویه) ګناه یې نه وي کړې، او دا (هر وخت چې لمونځ کوي دا به یې د ګناهونو کفاره ګرځي) به یې د ټول عمر لپاره همداسې وي.

(۱) حلية الأولياء لأبی نعيم (۲/۲۹۱).

(۲) رواه مسلم (۲۲۸).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۱۷ په لمانځه کې د دعا ځايو کې د دعا په غوښتو کې کوښښ کول او په ځانګړي ډول په سجده کې:

الله فرمايلي: ﴿ ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ ﴾(١).

**ژباړه:** خپل رب په عاجزی او په پټه رابلئ.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «أقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد؛ فأكثروا الدعاء»(٢).

**ژباړه:** بنده خپل رب ته ترټولو نږدې هغه د سجدې په حال کې وي؛ نو ډيرې دعاګانې وغواړئ.

## ۱۸ د لمانځه وروسته مسنون اذکار لوستل:

ځکه دا اذکار په زړه کې د خشوع ثابت پاتي کيدلو کې، او په په لمانځه کې دبرکت په پيدا کيدلو کې مرسته کوي.

---

(١) اعراف: ٥٥

(٢) رواه مسلم (٤٨٢).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دويم:

## هغه خنډونه او مشغولتیاوي لیرې کول چې د لمانځه خشوع له مینځه وړي او یا یې روح خړپړ کوي .

### ۱۹ د لمانځه د ځای نه هغه څه لیرې کول چې لمونځ کوونکی مشغوله کوي:

د انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې وایې: د عایشې رضی الله عنها نرۍ پرده [قرام] وه چې رنګینې نقشې وربانديې وې، چې د خپل کور یو اړخ یې وربانديې پټ کړی وو، رسول الله ﷺ ورته وویل: «أميطي عنا قرامك هذا؛ فإنه لاتزال تصاويره تعرض في صلاتي»[۱].

**ژباړه:** دا پرده دې لیرې کړه، ځکه چې انځورونه یې ما ته په لمانځه کې مخې مخې ته راځي.

(۱) رواه البخاری (۳۶۷).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۲۰ په هغه کاليو کې چې نقشې ورکې رسم شوې وي، او يا مختلف رنګونه او انځورونه ولري؛ لمونځ نه کول:

د عايشې رضي الله عنها څخه راويت دی: «أن النبي ﷺ صلى في خميصة لها أعلام ـ والخميصة كساء مربع من صوف ـ فنظر إلى أعلامها نظرة فلما انصرف قال: "اذهبوا بخميصتي هذه إلى أبي جهم، وأتوني بأنبجانية أبي جهم؛ فإنها ألهتني آنفا عن صلاتي»(۱).

**ژباړه:** رسول الله ﷺ په زونډي لرونکو کالو کې لمونځ وکړو، زونډو ته وکتل چې په کاليو کې وو، بيا يې وويل: زما دا کالي ابو جهم ته يوسئ، او د ابو جهم انبجانيه ما ته راوړئ؛ ځکه دې خو زه اوس د لمانځه نه غافله کولم.

**خميصة**: د وړيو څلور کونجه کاليو ته وايي.

**انبجانية:** هغه کاليو ته وايي چې رنګا رنګ تاري نقشې او زونډې ونه لري.

(۱) متفق عليه ؛ البخاري(۳۶۶)؛ ومسلم(۵۵۶).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۲۱ کوم وخت چې مخې ته خوراک حاضر شي، او یا یو تن ورې وي؛ نو په دغلته حالت کې دې لمونځ نه کوي(وروسته دې وکړي):

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «لاصلاة بحضرة الطعام»[۱].

**ژباړه:** کله چې خوراک حاضر شي؛ نو بیا مونځ صحیح نه دی[وروسته دې وکړي].

## ۲۲ کوم وخت کې چې یو تن قضاء حاجت رانیولی وي؛ نو په دغه حالت کې دې لمونځ نه کوي [وروسته دې کړي]:

بې له شکه د هغه کارونو له ډلې چې د مونځ کوونکي خشوع له مینځه وړي هغه تش یا ډکو بولو رانیول (ایسارول) دي، له دې امله رسول الله ﷺ منع کړې چې یو سړی دې په داسې حال کې لمونځ کوي چې تش او یا ډک بولو رانیولی وي، رسول الله ﷺ وفرمایلي: «لاصلاة بحضرة الطعام ولا هو يدافعه الأخبثان»[۲].

**ژباړه:** کله چې خوراک حاضر شي، او یا یو تن قضاء حاجت رانیولی وي؛ لمونځ یې صحیح نه دی.

دغه د بولو بندول بې له شکه چې د لمانځه خشوع له منځه وړي، او دا حکم بیا باد (هوا) بندولو ته هم شامل دی.

---

(۱) رواه مسلم (۵۶۰).

(۲) رواه مسلم (۵۶۰).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۲۳ د خوب په حال کې دې لمونځ نه کوي:

د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:«إذا نعس أحدكم في الصلاة؛ فلينم؛ حتي يعلم ما يقرأ»(۱).

**ژباړه:** کله چې پو تن ستاسې باندې خوب غلبه وکړي، ويده دې شي، تر هغې چې څه لولي په هغه وپوهيږي.

## ۲۴ د خبرې کوونکي او ويده انسان تر شا دې لمونځ نه کوي:

د الله پيغمبر ﷺ منع کړې له دې چې : «لاتصلوا خلف النائم ولا المتحدث»(۲).

**ژباړه:** د ويده او خبرې کوونکي انسان تر شا لمونځ مه کوئ.

دا له دې امله چې خبرې کوونکی دې د خبرو له امله له لمونځ څخه بې توجه کوي، او د ويده څخه کله په خوب کې داسې څه وشي چې د لمونځ کوونکی بې توجه کړي، خو چې کله خوب کوونکی څخه مطمئن وي؛ نو بيا د ويده کس ترشا لمونځ کول مکروه نه دي. والله اعلم

(۱) رواه البخاری(۲۱۳). وهو فی الصحيحين عن عائشة بنحوه.

(۲) رواه أبواداود(۶۹۴)، وحسنه الألباني فی صحيح سنن أبي داود.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۲۵ د کاڼو په برابرولو ځان نه مشغولول:

بخاري او مسلم د معیقب رضی الله عنه روایت نقل کړی چې رسول الله ﷺ به د هغه چا په اړه ویل چې د سجدي لپاره به یې خاروه (د سجدې ځای) هموراه وله: «إن كنت فاعلا، فواحدة»[١].

ژباړه: که چیرته دا کار(د سجدې ځای دځان لپاره هموارول) کوې؛ نو یو ځل یې وکړه.

**علت د نهي یې هم دا دی** چې د خشوع لحاظ وساتل شي؛ اوپه لمونځ کې ډیر حرکات ونه کړی شي، غوره به دا وي چې کله د سجدی ځای برابر نه وي؛ نو لمونځ د پیل څخه دې مخکې ځای برابر او هموار کړي.

## ۲٦ په لوړ اواز قراءت سره نور خلک په تشویش کې نه اچول:

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «ألا إن كلكم مناج ربه، فلا يؤذين بعضكم بعضا، ولايرفع بعضكم على بعض في القراءة»، أو قال: «في الصلاة»[٢].

---

(١) متفق عليه؛ البخارى(١١٤٩)، ومسلم(٥٤٦).

(٢) رواه أبواداود(١٣٣٢)، وصححه الألباني في صحيح سنن أبي داود.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**ژباړه:** خبردار هر یو تن ستاسې د خپل رب سره مناجات کوي، یو بل ته دې زیان او ضرر نه ورکوي، او یو په بل دې په قراءت کې او په بل روایت کې دې په لمانځه کې اواز نه لوړوي.

## ۲۷ لمونځ کې یوې خوا او بلې خوا ته نه کتل:

د رسول الله ﷺ نه په لمانځه کې یوې خوا او بلې خوا ته د کتلو اړوند پوښتنه وشوه، هغه وویل: «اختلاس يختلسه الشيطان من صلاة العبد»[1].

ژباړه: دا تښتونه ده چې شیطان یې د بنده له لمانځه څخه کوي.

## ۲۸ د لمونځ پر مهال اسمان ته نه کتل:

ددې کار کولو څخه منع او په کولو یې وعید هم راغلی، رسول الله ﷺ فرمایلي: «إذا كان أحدكم في صلاته فلايرفع بصره إلى السماء؛ أن يلتمع بصره»[2].

**ژباړه:** کله چې یو تن ستاسې په لمانځه کې وي، سترګې د اسمان په طرف نه پورته کوي، ګینې دید [نظر] به ترې واخیستل شي.

---

(۱) رواه البخاری(۷۱۸).

(۲) رواه أحمد (۲۲۵۱۶)، وصححه محققو المسند، والألبانی في صحيح الجامع(۷۴۹).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

د الله پیغمبر ﷺ په دې باره کې سخته وینا کړې: «لينتهين عن ذلك، أو لتخطفن أبصارهم»[1].

**ژباړه:** هرومرو دې دا خلک دا کار [په لمانځه کې اسمان ته کتل] نه کوي، ګینې الله به یې نظرونه واخلي.

## ۲۹ د لمونځ پر مهال خپلې مخې ته لاړې نه توف کول:

ځکه دا کار په لمونځ کې د خشوع او د الله په وړاندې د ادب خلاف دي، رسول الله ﷺ فرمایلي: «إذا كان أحدكم يصلي فلايبصق قبل وجهه؛ فإن الله قبل وجهه إذا صلى»[2].

**ژباړه:** کله چې یو تن ستاسې لمونځ کوي؛ نو مخې ته دې لاړې نه توف کوي، ځکه کله چې مونځ کوي الله یې مخې ته وي.

## ۳۰ د لمونځ پر مهال د ارګمي نه کولو کوښښ کول:

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «إذا تثاوب أحدكم في الصلاة، فليكظم ما استطاع؛ فإن الشيطان يدخل»[3].

(۱) رواه البخاری(۷۱۷).
(۲) متفق علیه؛ البخاری(۳۸۹)، ومسلم (۵۴۷).
(۳) رواه مسلم(۲۹۹۵).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**ژباړه:** کله چې یو تن ستاسې ارگمي کوي، د خپل توان برابر دې بند کړي، ځکه (په دغه وخت کې) شیطان [د ده خولې ته] ننوزي.

## ۳۱ د لمونځ پر مهال په تشو لاسونه نه کیښودل:

د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې: «نهى رسول الله ﷺ عن الاختصار في الصلاة»[١].

**ژباړه:** رسول الله ﷺ د لمونځ پر مهال په تشو لاسونو د کیښودلو نه منع کړې ده.

## ۳۲ د لمونځ پر مهال سدل نه کول:

روایت دی: «أن النبي ﷺ نهى عن السدل[٢] في الصلاة، وأن يغطي الرجل فاه»[٣].

**ژباړه:** رسول الله په لمونځ کې د سدل او خولې پټولو څخه منع کړې ده.

(١) رواه أبوداود(٩٤٨٧)، وصححه الألباني فى صحيح سنن أبى داود.

(٢) سدل: خپل کالي او لباس زوړند ساتل تر دې چې ځمکې ته ورسیږي.

(٣) رواه أبوداود(٦٤٣)، وصححه الألباني فى صحيح سنن أبى داود.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ٣٣ د حيواناتو مشابهت نه کول:

رسول الله ﷺ په لمانځه کې د درې کارونو نه منع کړې ده: «عن نقرة الغراب، وافتراش السبع، وأن يوطن الرجل المكان في المسجد، كما يوطن البعير»، وفي لفظ لأحمد: «كأبطان[1] البعير»[2].

ژباړه: [پیغمبر ﷺ منع کړې] د کارغه د ټونګې نه[لمونځ دکارغه د ټونګو په څیر کول]، د درندګانو په څیر خپې خورولو نه او له دې چې یو تن دې په جومات کې یو ځای د ځان لپاره ځانګړی کړي، څرنګه یې چې اوښ له ځانګړی کړی وي.

د امام احمد په روایت کې داسې: د اوښانو د غوجلې په څیر.

پورته ذکر شوي هغه اسانه اسباب دي چې خشوع ځنګه په خپل ځان کې راپیدا کړو، او هغه کوم کارونه چې د خشوع څخه مو غافله کوي.

والحمدلله، والصلاة والسلام على نبينا محمد ﷺ.

---

(١) ابطان البعير: یو تن د ځان لپاره په جومات کې یو ځانګړی ځای غوره کړي، یوازې همغلته لمونځ کوي، څرنګه چې د اوښ لپاره خپل پالان وي.

(٢) روه أحمد (١٥٥٣٣)، وأبو داود(٨٦٢)، وهو حسن كما فى صحيح سنن أبى داود.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner